اونیزه مجله :344
WEEKLY BOOKLET:344

# امیرِ اهلِ سُنّت نه د اعتکاف
# پهٔ باره کښې 10 سوالونه او جوابونه





پهٔ جُمات کښې د روژه ماتي کولو احتياط 02
پهٔ جُمات کښې گمنز کول څنګه دي؟ 03
آیا اسلامي خويندې اجتماعي اعتكاف كولې شي؟ 09
د عُمره عمر اسلامي وروڼه دې اعتكاف كوي؟ 13



شیخ طریقت امیر اهل سنت د دعوت اسلامی بنسټګر حضرت علامه مولانا ابو بلال
محمد الیاس عطار قادری رضوی دامت برکاتہم العالیہ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د امیرِ اهلِسُنَّت نهٔ د اِعتکاف پهٔ باره کښې 10 سوالونه او جوابونه[1]

دُعائے خلیفهٔ عطّار: یا رَبَّ المُصطفٰے! څوک چې دا رساله "د امیرِ اهلِسُنَّت نه د اِعتکاف پهٔ باره کښې 10 سوالونه او جوابونه" ولولي یا واوري، هغهٔ ته د سُنَّت مطابق د اِعتکاف کولو توفیق ورعطا کړې او بے حسابه یې اوبخښې. اٰمین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د خوږ آخري نبي صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم فرمان مبارک دے: "اَكْثِرُوا الصَّلَاةَ عَلَيَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَإِنَّهُ مَشْهُوْدٌ تَشْهَدُهُ الْمَلَائِكَةُ وَإِنَّ أَحَدًا لَنْ يُّصَلِّيَ عَلَيَّ إِلَّا عُرِضَتْ عَلَيَّ صَلَاتُهُ حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْهَا، یعنې د جُمعې پهٔ ورځ پهٔ ما باندې پهٔ کثرت سره درودِ پاک رالیږئ ځکه چې دا یومِ مَشهود (یعنې زما پهٔ بارګاه کښې د فرښتو د خصوصي حاضرئ ورځ) ده، پهٔ دې ورځ باندې فرښتې (پهٔ خصوصي طور پهٔ کثرت سره زما پهٔ بارګاه کښې) حاضریږي، چې کوم کَس پهٔ ما باندې درود رالیږي نو د هغهٔ د فارغیدو پورې د هغهٔ درود ما ته پیش کړے شي." د حضرت ابُو دَرداء رضی اللہ عنہ بیان دے چې ما عرض وکړو: (یا رسولَ الله!) او ستاسو د وصال نه پس به څهٔ کیږي؟ ارشاد یې ووفرمائیلو: "آؤ! (زما د ظاهري) وفات نه پس به هم (ما ته هم داسې پیش کولے شي. " اِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ عَلَى الْاَرْضِ اَنْ تَاْكُلَ اَجْسَادَ الْاَنْبِيَاءِ، یعنې الله پاک د زمکې د پاره د انبیائے کرامو علیهم السّلام بدنونه خوړل حرام کړي دي." فَنَبِيُّ اللّٰهِ حَيٌّ يُّرْزَقُ، پس د الله پاک نبي ژوندے وي او هغهٔ ته رزق هم عطا کولے شي." (ابن ماجه، 291/2، حدیث:1637)

---

[1] ... دا رساله د امیراهلسنّت دامت برکاتہم العالیہ نه پهٔ شوو سوالونو او د هغې پهٔ جوابونو باندې مشتمله ده.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

سوال: آیا پهٔ تیرو اُمَّتونو کښې به هم اِعتکاف کیدلو یا دا د اُمَّتِ محمدیه د پاره خاص دے؟

جواب: اِعتکاف ډیر زوړ عبادت دے لکه څنګه چې د دعوتِ اِسلامي د اداري مَکْتَبَةُالْمَدِینه د کتاب "فیضانِ رَمَضان" د بابِ فیضانِ اِعتکاف پهٔ صفحه 228 کښې دي: پهٔ مخکښینو اُمَّتونو کښې هم د اِعتکاف عبادت موجود وو پهٔ وړومبی سیپاره د سُوْرَۃُالْبَقَرَۃ پهٔ ایت نمبر 125 کښې دي:

وَ عَهِدْنَاۤ اِلٰۤى اِبْرٰهٖمَ وَ اِسْمٰعِیْلَ اَنْ طَهِّرَا بَیْتِیَ لِلطَّآىٕفِیْنَ وَ الْعٰكِفِیْنَ وَ الرُّكَّعِ السُّجُوْدِ ﴿۱۲۵﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالْعِرفان: او مونږه ابراهیم او اسماعیل ته تاکید اوکړو چې زما کور د طواف کوونکو او اعتکاف کوونکو او رکوع سُجُود کوونکو د پاره ښهٔ پاک او صفا ساتئ.

اے د رمضان عاشقانو! د طواف او نـمونځ او اِعتکاف د پاره د کعبې شریفې د پاکولو او صفا کولو ښکاره د رَبِّ کعبه له طرفه فرمان جاري کړے شوے دے. د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُاللهِعَلَیْه فرمائي: معلومه شوه چې جوماتونه دي پاک صفا وساتلے شي هلته دي ګنده او بد بوداره څیز نه راوړے کیږي، دا سُنَّتِ اَنبیا دي. دا هم معلومه شوه چې اِعتکاف عبادت دے او د مخکینو اُمَّتونو پهٔ نـمونځونو کښې رُکوع او سجدې دواړه وې. دا هم معلومه شوه چې د جوماتونو مُتَوَلّي (مُنتَظِم) پکار وي او مُتَوَلّي چې صالح یعني پرهیزګاره انسان وي. نور مخکښې فرمائي: طواف او نـمونځ او اِعتکاف ډیر مخکښیني عبادتونه دي چې پهٔ زمانهٔ اِبراهیمي کښې هم وو.

(تفسیر نور العرفان، پ1، البقرة، تحت الآیة:125، ص29، ملفوظاتِ امیرِ اہلسنت، 350/2)

سوال: پهٔ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې ډیر خلق پهٔ جوماتونو کښې روژه ماتے کوي، د هغوئي د پاره د اِعتکاف د نیت پهٔ باره کښې مَدَني ګُلونه اِرشاد ووفرمایئ.

**جواب:** پۀ جومات کښې د خوراک څښاک د پاره د اِعتکاف نیت مۀ کوئ بلکې د ثواب د پاره نیت کوئ او دا نیت صرف پۀ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې نۀ بلکې ټول کال چې کله هم جومات ته راځئ، اګر که د یو سیکنډ د پاره وي د اِعتکاف نیت کوئ. د نیت الفاظ دا دي: نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف یعنې ما د سُنَّت اِعتکاف نیت وکړو. یاد ساتئ چې دا نیت صرف د عربۍ پۀ الفاظو کښې کول شرط نه دے بلکې د عربۍ پۀ الفاظو سره به نیت هُغه وخت [صحیح] وي چې پۀ زړۀ کښې هُم نیت موجود وي او د عربۍ پۀ معنیٰ هم پوهیږي. صرف رَټه کړے شوي دې ووئیل او د اِعتکاف د نیت پۀ لور دې هم توجه نشته نو دا نیت به نۀ منلے کیږي. پۀ اُردو بلکې یا بَله ژبه کښې هُم نیت کولے شئ مثلاً ما د سُنَّتِ اِعتکاف نیت وکړو.

یاد ساتئ چې پۀ جومات کښې خوراک څښاک اوده کیدل جائز نه دي البته که د اِعتکاف نیت دې وکړو نو بیا ضِمناً پۀ جومات کښې خوړل، څښل، اوده کیدل، روژه ماتے، اَبِ زم زم څښل، نیاز [خیرات] خوړل وغیره ټول به جائز شي. که خوراک څښاک مخکې ته کیښودے شو او د اِعتکاف نیت مو نه وو کړے نو بیا صرف د خوراک څښاک د پاره د اِعتکاف نیت نشۍ کولے. (درمختار وردالمحتار، 525/2 ماخوذاً–بهارِشریعت، 648/1، حصه:3) البته د ثواب د پاره بیا هم نیت کیدے شي لهٰذا د نیت کولو نه پس څۀ ذِکر او دُرُود وکړئ مثلاً دولس کرته دُرُود شریف یا کلمه مبارکه ولولئ. د دولس د عدد سره د محبت پۀ وجه مې دولس کرته لوستل ووئیل ګني دومره ځل لوستل ضروري نۀ دي. څۀ نا څۀ ذِکر او دُرُود ولولئ، بیا که وغواړئ نو خوراک څښاک او روژه ماتے کولے شئ. (ملفوظاتِ امیر اہلسنت، 368/2)

**سوال:** پۀ جومات کښې ویښته ګمنځول څنګه دي؟

**جواب:** پۀ جومات کښې د ویښتو ګمنځولو نه بچ کیدل پکار دي ځکه چې د دې سره به پۀ جومات کښې ویښته پریوځي، البته که څوک پۀ احتیاط سره

ګمنځوي مثلاً خادر غوړوي او ګمنځوي د پاره د دې چې ويښته پۀ خادر کښې پريوځي نو داسې ګمنځول جائز دي. پۀ جومات کښې د ويښتو ګمنځولو نه منع کول پکار دي ګنې که پۀ اِعتکاف کښې مُعتكِفين [يعنې اِعتکاف کوونکي] پۀ هر ځائے کښې ګمنځول شروع کړي نو ټولو له احتياط نۀ ورځي ځکه به ويښته غورځوي حالانکه د جومات صفا سوترا ساتلو حکم دے. (ملفوظاتِ امیرِ اہلسنت،181/2)

**سوال:** کوم اِسلامي ورور چې د اِعتکاف کولو نه پس د ديني ماحول نه لرې شي هغه بيا ديني ماحول ته څنګه راوستے شي؟

**جواب:** داسې خبره نه ده چې د اِعتکاف کولو نه پس ټول اِعتکاف کوونکي د دِيني ماحول نه لرې شي. که داسې وے نو نن به مونږ دا سپرلي نه ليدلے. د دعوتِ اِسلامي د مَدَني ماحول سره ترون لرونکي ګڼ شمير اِسلامي وروڼه د اِعتکاف پۀ وجه مَدَني ماحول ته راغلي دي. د دعوتِ اِسلامي مُفتي فُضيل رضا (دامت برکاتهم العالیه)، د دوئي دعوتِ اِسلامي ته د راتلو وجه هم اِعتکاف جوړه شوه، دوئي مَدَني ماحول ته د راتللو واقعه پخپله بيان کړې وه چې دوئي به مخکښې مدرَسَةُ المَدينه برائے بالغان ته تللو او هلته به يې سبق لوستلو بيا يې د دعوتِ اِسلامي پۀ عالمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه بابُ المدينه (کراچی) کښې پۀ اجتماعي اِعتکاف کښې شرکت وکړو. د دې اِعتکاف پۀ برکت سره هغوئي د دعوتِ اِسلامي پۀ رنګ کښې داسې رنګ شو چې دَرس نظامي (يعني عالِم کورس) يې شروع کړو او نن اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي قابلِ فخر مفتي دے بلکې مفتيِ اِسلام جوړ شوے دے. داسې به د دعوتِ اِسلامي ډير مُبَلِّغين او ذِمه داران وي کومو چې به د اِعتکاف پۀ وجه مَدَني ماحول اِختيار کړے وي، ممکن ده چې ډير اَراکينِ شُوریٰ به هم داسې وي چې د اِعتکاف پۀ برکت به د دعوتِ اِسلامي مَدَني ماحول ته راغلي وي.

نګرانِ شورىٰ حاجي ابو حامد محمد عمران هم د اِعتکاف په وجه مَدَني ماحول ته راغلے وو. د اِعتکاف نه مخکښې دوئي ديني ماحول ته تګ راتګ شروع کړے وو چې په دوئي باندې د دې څۀ نا څۀ اثر شوے وو، بيا يې چې کله اِعتکاف وکړو نو د دوئي دُنيا بدله شوه. دوئي د خپل هٰغۀ اِعتکاف حالات پخپله بيانوي "چې زۀ کله په اِعتکاف کښې کښېناستم نو زما دوستان به زما سره د ملاقات د پاره راتلل زۀ پخپله هم د ټوقو ټقالو عادت ووم نو هغوئي به ما ته وئيل چې دا ټولې ډرامې پريږده. آيا تۀ د مولیانو د ټنګولو د پاره ناست يې؟ خو زۀ بالکل سنجيده شوم او د هغوئي سره مې هيڅ ټوقې ونکړې." بيا په حاجي عمران باندې د اِعتکاف داسې اثر وشو چې اوس هم هٰغه عمران نګرانِ شورىٰ جوړ شوے د خلقو د وړاندې موجود دے او د دُنيا ډيره ګڼه شميره د دوئي عقيدت منده ده. اکثريت د دوئي د بيان نه مطمئن کيږي د دوئي بيان اوريدونکي په خپل ځان کښې بدلون محسوسوي. يقيناً دا ټول سپرلي هم د اِعتکاف له وجهي دي د دې باوجود که څوک د اِعتکاف کولو نه پس هم د نيکو په لار نۀ روانيږي او د څۀ قِسمه بدلون پکښې نه راځي نو د هغۀ خپل نصيب دے.

حضرت وَهب بِن مُنَبِّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تابعي بزرګ دے د هغوئي د فرمان خُلاصه ده: بعضې خلق عِلمِ دِين حاصلوي د هغې باوجود د هغوئي اِصلاح نه کيږي بلکې هغوئي نور خرابيږي او د فساد وجه جوړيږي.(1) يعني که د چا په

---

(1)...حضرت وَهَب بِن مُنَبِّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:د عِلم مِثال خو د باران د هٰغه اوبو په شان دے چې د آسمان نه پاکې او صفا او خوږې نازليږي او وَنې هغۀ د خپلو جرړو په ذريعه جذب کوي. بيا که وَنه ترخۀ وي نو د باران اوبه د هغې تريخوالے زياتوي او که هغه وَنه خوږه وي نو د هغې خوږ والے زياتوي بس هم داسې عِلم خو پخپله د فائدې سبب دے خو چې په خواهشونو کښې راګير انسان دا حاصل کړي نو دا عِلم د هغۀ د پاره په تکبُّر کښې د اخته کيدو سبب جوړ شي او چې کله شَرِيْفُ النَّفْس اِنسان دا عِلم حاصل کړي نو د هغۀ شرافت، عبادت، ويره او خَشِيَّت او پرهيزګاري زياته کړي. (حديقه نديه، 512/2)

زړهٔ کښې د فساد تخم موجود وي نو د عِلمِ دِين حاصلولو باوجود به هم د هغهٔ د زړهٔ نه فساد پيدا کيږي چې د هغه تخم به ورځ پهٔ ورځ پالنه کيږي آخر به غټه وَنه جوړه شي او فساد به شروع کړي. ځکه چې فصل هميشه د تخم پهٔ مثال حاصليږي چې څنګه تخم کَرَلے شي هم هُغسې فصل به ميلاويږي که غنم کرې نو غنم به ميلاويږي، که وربَشې کرې نو وربَشې به ميلاويږي او که وريژې کرې نو وريژې به ميلاويږي. هم داسې د بعضې خلقو پهٔ زړونو کښې د بد بختۍ او شرارت تخم وي که داسې خلق عِلمِ دِين حاصل هم کړي نو د هغه تخم جرړې د هغوئي پهٔ زړهٔ کښې مضبوطې شوې وي دغسې هُغه خلق د فساد پيدا کولو سبب جوړيږي. چې د کوم خوش قِسمته پهٔ زړهٔ کښې د شرافت او سعادت مندۍ تخم وي بيا هغهٔ د هغه تخم د عِلمِ دِين پهٔ ذريعه ښه پالنه کوي او د هغې د نور ښکلي کولو کوشش کوي نو هغهٔ ګس يو نيک انسان او باعمله عالِم جوړ شي او پهٔ معاشره کښې وړاندې راشي.

## د خپل وخت قدر وکړئ

داسې ډير خلق عالمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه بابُ الـمدينه (کراچۍ) ته د اِعتکاف د پاره راځي چې د هغوئي د خپلې اِصلاح پهٔ باره کښې څهٔ ذهن نه وي نو هغوئي د خپلو دوستانو سره ګروپ جوړ کړي او پهٔ فضول خبرو کښې مشغول اوسي. که څوک دوست يـې د بهر نه کباب سموسې راوړي نو هغوئي پهٔ خوراک کښې خپل وخت بربادوي. بعضې خو پهٔ مَدَني مذاکره کښې هم شرکت نهٔ کوي حالانکه مَدَني مذاکره پهٔ اِعتکاف کښې د ټولو نه اهمه سلسله وي. د هغوئي غوږونو ته د مَدَني مذاکرې آواز ضرور ور رسي خو زړهٔ ته يـې نه کوزيږي ځکه چې هغوئي د اوريدو د پاره ناست نهٔ وي نو د هغې د برکتونو نه هم محرومه پاتې شي. آؤ! چې کوم خلق پهٔ جومات کښې دننه کښيني او پهٔ

توجه سره د مَدَني مذاکرې اوريدو سعادت حاصلوي نو يقيناً د هغوئي په زړهٔ باندې هم اثر کيږي او هغوئي ډير برکتونه حاصلوي. لِهٰذا اِعتکاف کوونکو له پکار دي چې د خپل وخت قدر وکړي هغه پهٔ فضولياتو کښې د ضائع کولو پهٔ ځائے د عِلمِ دِين حاصلولو کوشش وکړي.

## ټول کال د رَمَضَانُ الْمُبَارَک انتظار

د رَمَضَانُ الْمُبَارَک پهٔ راتلو کښې لا يو څو مياشتې پاتې دي لِهٰذا چې د چا نه کيدے شي هغهٔ دې نيت وکړي چې اِنْ شَآءَالله پهٔ عالمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه بابُ الـمدينه (کراچۍ) کښې به د ټول رَمَضَانُ الْمُبَارَک اِعتکاف کووم. پهٔ عالمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه کښې د اِعتکاف ډير ښکلے ماحول وي لِهٰذا حتّي الاِمکان هم پهٔ فيضانِ مدينه کښې د اِعتکاف کولو کوشش کوئ، ګني پهٔ خپلو خپلو ښارونو او ملکونو کښې چې چرته د دعوتِ اِسلامي زيرِ انتظام اِعتکاف کولے شي هلته د اِعتکاف کولو ترکيب جوړ کړئ اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! بے شميره فائدې او برکتونه به مو نصيب شي. که د يوې مياشتې اِعتکاف ممکن نهٔ وي نو د لسو ورځو د اِعتکاف ترکيب جوړ کړئ که چرې دا هم نشي کيدے نو اِعتکاف ته تګ راتګ کوئ مثلاً که څوک نوکرۍ له ځي نو هغه دې لاړ شي او خپل کار دې پوره کړي او واپس دې راشي او چرته چې اِعتکاف کيږي هم هلته دې پاتې شي کور ته دې نه ځي بلکې د نوکرۍ نه پس دې ټول وخت د اِعتکاف کوونکو سره تيروي، د هغوئي صحبت دې اِختياروي د داسې کولو سره به هم ډير څهٔ حاصل شي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! مونږ ټول کال د رَمَضَانُ الْمُبَارَک انتظار کوو بلکې مونږ خو ټول کال دا دُعا کوو "اَللّٰهُمَّ بَلِّغْنَا رَمَضَانَ بِصِحَّةٍ وَّعَافِيَةٍ يعني اے الله! مونږ د صحت او عافيت سره د رمضان د مياشت سره ميلاو کړې." د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د

برکتونو به څۀ وايم! د رَمَضَانُ الْمُبَارَک پۀ فضاګانو کښې چې کوم خوند او مزه وي هغه پۀ نورو ورځو کښې نۀ وي چې څنګه د رَمَضَانُ الْمُبَارَک مياشت اوليدے شي نو پۀ زړۀ باندې يو عجيبه کيفيت راخور شي او چې څنګه د اختر مياشت اوليدے شي نو زړۀ پۀ غم کښې ډوب شي چې هىٔ افسوس! رَمَضَانُ الْمُبَارَک د برکت او ډير د عظمت او شان والا مياشت زمونږ نه رخصت شوه، هُغه ټول برکتونه لاړل کوم چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک پۀ وجه زمونږ نصيب شوي وو. **الله** پاک دې زمونږ د صحت او عافيت سره بيا بيا د رَمَضَانُ الْمُبَارَک مياشت نصيب کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صلَّى اللهُ عليهِ وَاٰلِهٖ وَسلَّم

## د زيات عمر اِسلامي ورونه او پۀ مَدَني مَرکز کښې اِعتکاف

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د ټولې روژې د مياشتې د اِعتکاف کولو نيت وکړئ که تاسو پۀ تيرو کلونو کښې يوه مياشت اِعتکاف کړے وي او که نۀ او د نيت کولو سره د دې يوې مياشت تياري هم شروع کړئ. که نيت مو رښتونے وو نو د نيت کولو سره به ثواب ميلاويدل شروع شي. بعضې خوش قِسمته خو د اِعتکاف داسې پتنګان وي چې د قِسما قِسم ازميښتونو باوجود هغوئي د اِعتکاف نه نۀ پشا کيږي خصوصاً زمونږه د زيات عمر (يعني مشران بوډاګان) اِسلامي ورونه هر کال اِعتکاف کوي که هغوئي منع هم کړے شي نو نۀ يـې مني او پۀ يو حال کښې هم خپل کور ته د تللو د پاره نۀ تياريږي. پۀ اجتماعي اِعتکاف کښې ډير رش وي هغوئي د اِستنجا او اودس پۀ معاملو کښې ډير د پريشانىٔ سره مخ کيږي پۀ دې وجه اوس مونږ دا اُصول جوړ کړے دے چې پۀ عالمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه باب الـمدينه (کراچىٔ) کښې د پنځوسو کالو نه د زيات عمر اِسلامي ورونه پۀ اِعتکاف کښې نۀ کښينولے شي. البته پۀ فيضانِ مدينه کښې بعضې داسې د زيات عمر اِسلامي ورونه هم دي چې

عمرونه يـې اويا کاله شوي دي خو دوئي د ډيرې مودې نه پهٔ فيضانِ مدينه کښې اِعتکاف کوي لهٰذا صرف دې اِسلامي وروڼو ته پهٔ فيضانِ مدينه کښې د اِعتکاف اِجازت دے ځکه چې د ډيرې مودې نه پهٔ فيضانِ مدينه کښې د اِعتکاف کولو پهٔ وجه د دې اِسلامي وروڼو کافي تجربه شوې ده، دوئي ته د مَدَني مرکز اُصول او جدول وغيره معلوم وي پهٔ دې وجه اُمّيد دے چې دوئي به د نورو اِسلامي وروڼو د تکليف سبب نه جوړيږي. نوي راتلونکي د زيات عمر اِسلامي وروڼه د کومو عمرونه چې د پنځوسو کالو نه زيات وي هغوئي ته پهٔ فيضانِ مدينه کښې د اِعتکاف کولو اجازت نشته ځکه چې هغوئي پهٔ فيضانِ مدينه کښې د اِعتکاف تجربه نه لري، د زيات عمر له وجهې به يـې د مخکښې نه بدن ډير کمزورے شوے وي بيا د اِعتکاف د جدول له وجهې به نور کمزورے شي، که دوئي بيمار شو نو د دوئي سمبالول به مشکل شي. پهٔ اِسنتجا خانو او د اوداسه پهٔ ځايونو کښې د رش له وجهې به هم پريشانه شي لهٰذا داسې د زيات عمر اسلامي وروڼه دې عالمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه ته د اِعتکاف د پاره تشريف نهٔ راوړي. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 231/1)

**سوال:** آيا اِسلامي خوئيندې اِجتماعي اِعتکاف کولے شي؟

**جواب:** نهٔ جي! اِسلامي خوئيندې اِجتماعي اِعتکاف نشي کولے. ځکه چې [د زنانؤ] د اِعتکاف د پاره د مسجدِ بيت يعني د کور هُغه حصه کومه چې د نـمونځ کولو د پاره مخصوص کړے شوې وي پهٔ هغې کښې د اِعتکاف اِجازت شته. (درمختار، 494/3 ماخوذاً) لهٰذا که اِسلامي خور اِعتکاف کول غواړي نو هغه دې يـې صرف پهٔ مسجدِ بيت کښې وکړي. که پهٔ کور کښې څهٔ ځائے د نـمونځ کولو د پاره مخصوص نه وي نو د اِعتکاف نه مخکښې څهٔ ځائے د کور يوه کمره يا

حصه مخصوص کړئ چې هغه به هم هلته نـمونځ کوي بيا دې هم هلته اِعتکاف هُم وکړي. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 234/1)

**سوال:** زهٔ اِعتکاف کول غواړم ما ته دا ووايئ چې آيا د دعوتِ اِسلامي زيرِ انتظام کيدونکي د يوې مياشتې اِعتکاف کښې څهٔ کورس هم کولے شي؟

**جواب:** د يوې مياشتې پهٔ اجتماعي اِعتکاف کښې صرف کورس نه وي بلکې کورسونه وي او ډير څيزونه زده کيږي. البته پهٔ اِجتماعي اِعتکاف کښې څهٔ باقاعده کورس نهٔ کيږي. خو پهٔ شريک طور باندې ډير څيزونه زده کيږي. هره ورځ دوه مَدَني مذاکرې وي کومې چې د تيرې ډيرې مودې راسې کيږي، که صحت ملاتړ وکړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! دا ځل به هم دوه مَدَني مذاکرې کيږي. د دې نه علاوه نـمونځ ښودلے شي، دعاګانې وغيره يادولے شي او نور هم ډير څيزونه زده کولے شي، لهٰذا د يوې مياشتې د اِعتکاف سعادت ضرور حاصل کړئ. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 244/2)

**سوال:** د ملتان او خواږ شاه ښارونو ذِمه دارانو نيت کړے دے چې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! پهٔ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې به د اجتماعي اِعتکاف د پاره يو يو تړين راولي، که تاسو مناسب وګڼئ نو مِعيار يـې بيان کړئ چې د کوم قِسمه اِسلامي وروڼه د اِعتکاف د پاره راوستے شي؟

**جواب:** د اِجتماعي اِعتکاف د پاره پوهه اِسلامي وروڼه راوستل پکار دي، داسې نهٔ چې د تړين راوستو يـې وئيلي دي نو اوس دې هر څوک راولي او د اخوا ديخوا نه دې پيسې راجمع کړي او د اتياؤ کالو مشران دې هم راولي. څوک د فالج مريض وي نو د چا حالت داسې وي چې پهٔ خبره نه پوهيږي او د تربيتي حلقو پهٔ مينځ کښې اُودهٔ شي، غصه کوي، اِسلامي وروڼه رټي، پهٔ اِستنجاخانو کښې رش وي نو هلته جګړا شروع کړي يا بيمار شي او هسپتال کښې پهٔ بستره پريوځي. پهٔ اِجتماعي اِعتکاف کښې د شرکت کوونکو عمر د 50 کالو نه چې زيات نه

وي د دې نه کم پکار دے. داسې اِسلامي وروڼو له دې ترجيح ورکړے شي د کومو عمر چې د پنځوسو کالو نه کم وي او د هغوئي څۀ مستقل بيماري هم نه وي. که د چا د مرئ کينسر دے زمونږه 112 فيصده د هغۀ سره همدردي ده خو دے چې کله د اِعتکاف کوونکو سره د خوراک د پاره کښيني نو ټول به خوراک کوي او دے به ورته هسې ګوري، داسې به نور اِعتکاف کوونکي څنګه خوراک کوي، د هغوئي به پۀ دۀ باندې زړۀ خوګيږي نو د هغوئي د پاره به خوراک ګران شي. داسې مريض نه دے پکار د کوم نه چې نورو ته پريشاني وي او راوستونکے تنګوي او بيا ضِد کوي چې ما واپس کور ته بوځه ما ته څۀ پته وه چې دلته به دومره رش وي وغيره لهٰذا د اِعتکاف کوونکو راوستو د پاره تعداد ته نۀ بلکې معيار ته ګورئ. بعضې وخت د کينسر داسې مريض راوستے شي چې د زخم نه يې بد بوئي ځي، خو شرعي مسئله دا ده چې د چا د زخم، خُلې يا جامو نه بد بوئي ځي د هغۀ د پاره جومات ته ننوتل منع دي.(1)

## جومات ته نا پوهه ماشومان مۀ راولئ

دا هم ياد ساتئ چې پۀ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې د ملاقات ترکيب نه کيږي ځکه چې شپې ورځې وي مَدَني مذاکره هم د تراويح نه پس شروع کيږي بيا د پيشمني وقفه هم کول وي. بعضې اِسلامي وروڼه ماشومان راولي او د ملاقات د پاره ضِد کوي چې ملاقات وکړئ. که د انسان پۀ ماشومانو باندې زړۀ خوګ شي او

1... اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسنَّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: ماشوم او ليونے او مجذوم [د جُذام مريض] او د برص [برَګي مرض والا] او د بدبوئي والا زخم لرونکي او د کچه اوګې، پياز خوړونکي او مُفسد (فساد کوونکي) او مُوذي (ضرر رسوونکي)، شريعت دوئي ته جومات ته د راتلو حق نۀ دے ورکړے بلکې د جومات نه يې د لرې کولو حکم ورکړے دے. (اظهار الحق الجلی، ص64 ملتقطاً)

ملاقات وکړي نو دوئي به خلقو ته وائي چې زمونږه د ماشومانو ملاقات وشو نو پۀ بَله ورځ به لس ماشومان نور راشي. بیا به دغه ماشومان پۀ جومات کښې شور او ځوږ کوي، پۀ یو بَل پسې به منډې وهي او کبډې به شروع کړي، پلار يې تراويح کوي او بچے يې شاته شور کوي. د ماشومانو پۀ باره کښې دا مسئله ياده ساتئ چې داسې ماشوم چې د هغۀ پۀ باره کښې دا غالب گُمان وي چې دا به میتیازې وکړي د هغۀ جومات ته راوستل جائز نه دي او داسې ماشوم د کوم پۀ باره کښې چې غالب گُمان وي چې دا به اُووائي [چې میتیازې راځي] نو د هغۀ جومات ته راوستل مکروهِ تنزيهي یعنې ناخوښه عمل دے. (درمختار مع ردالمحتار، 2/518)

او که داسې ماشوم وي چې پۀ جومات کښې به شور کوي، اخوا دیخوا به منډې وهي، د جومات احترام به مات کړي او د نـمونځ کوونکو د تکليف وجه به جوړيږي که هغه د لسو کالو هم وي او پلار ته د هغۀ پۀ باره کښې علم وي چې دا به داسې کوي نو د هغۀ جومات ته راوستل به گناه وي.[1] داسې ماشومان عموماً پۀ هُغه جوماتونو کښې وي کوم چې د آبادۍ والا علاقو کښې جوړ وي، د ډېرو اِسلامي ورونړو به د دې تجربه شوې وي چې دوئي څومره ورانے کوي.

## د ماشومانو اِعتکاف ته د راوستو نقصانونه

بعضې ماشومان د اتۀ نهو کالو وي او هوښیاران هم وي چې يواځې وي نو پۀ تميز ناست وي او نـمونځ وغیره هم کوي خو چې چرته د يو نه دوه شي نو تول جومات پۀ سر راواخلي. لهٰذا که څوک وائي چې زما بچے شريف دے هيڅ څۀ به نه کوي او بَل

1... اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسنَّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: که د (ماشومانو نه) د نجاست غالب گُمان وي نو د هغوئي جومات ته راوستل حرام او که حالت يې مُحْتَمِل او شکمن وي نو مکروه دي. که ماشومان بلکې بوډاګان هم بد تميزه، نامُهذَّبه وي، شور کوي، بے حرمتي کوي، جومات ته دې نه پريښودے کيږي. (فتاوىٰ رضويه، 16/458 ملتقطاً)

ګَس هم دا سوچ وکړي او خپل ماشوم جومات ته راولي نو دا دواړه شريفانان به پهٔ شريکه شرافت يو طرف ته غوزار کړي، د ډيرو به دا تجربه هم شوې وي. بهتره دا ده چې ماشومان د ځان سره رانه وستے شي. که کوم ماشوم داسې کوي نو د هغهٔ منع کول به واجب شي. د دې نه علاوه د نورو پريشانو سره هم مخ کيدے شي مثلاً پهٔ مَدَني مذاکره کښې څه داسې موضوع روانه وي د کومې اوريدل چې مزه کوي او ناڅاپه ماشوم ووائي چې بابا وربے شوے يم يا اوبه څښنم بيا به هغه وخت په هغهٔ باندې د اوبو څښلو د پاره ځي نو چې کوم بيان کيدو د هغې نه خو به د ماشوم پلار محرومه شي ورسره ورسره به درې څلور ګسان نور هم د هغهٔ پهٔ وجه پريشانه شي. بيا به ماشوم وائي چې بابا ما له ميتيازې راغلې دي نو هغه به بوتلل وي که نه يې بوځې نو هغه به يې هم هلته وکړي. ماشومان داسې ګړ بړ کوي، کله به وائي چې خوب راغلے دے ځکه چې پوهيږي نهٔ نو خوب خو به ورځي بيا د دوئي د څملولو مسئله وي، نهٔ پخپله څهٔ اوري او نهٔ پرې پوهيږي او نهٔ پرې پلار اوريدو او پوهيدو ته پريږدي لهٰذا مهرباني وکړئ ماشومان د ځان سره مهٔ راولئ او دا مَدَني خواست صِرف د روژې د مياشت د پاره نهٔ بلکې د ټول کال د پاره ياد ساتئ. د تعداد پهٔ ځائے معيار ته ترجيح ورکوئ، که د ټول ترين پهٔ ځائے يو څو بوګياني [يعني د ترين يو څو ډېر] راولئ يا صرف يو بَس راولئ. خو چې کوم اِسلامي وروڼه راولئ هغوئي پوهه وي او د **اللّٰه** پاک نه ويره لري، چې څوک هغوئي ته وګورې نو **اللّٰه** ورياد شي، نهٔ چې داسې وي چې د بهر نه څوک راشي او اُويې وِيني نو بدګمانه شي او واپس لاړ شي او ووائي چې مونږ خو ډير تعريف اوريدلے وو خو دلته خو جنګ جګړې کيږي. (ملفوظاتِ امیرِ اہلسنت،2/245)

**سوال:** د څومره عمر اِسلامي وروڼه اِعتکاف ته کښينولے شي؟[1]

---

[1] ... دا سوال د شعبهٔ ملفوظاتِ امیرِ اهلسنّت له خوا جوړ کړے شوے دے او جواب د امیرِ اهلِسُنَّت دامت برکاتہم العالیہ له خوا عطا کړے شوے دے.

**جواب:** چرته چې د اِجتماعي اِعتکاف یا د ټولې میاشت د اِعتکاف ترکیب وي هلته او خاص طور د عالمي مَدَني مرکز فیضانِ مدینه د پاره دې د دې خبرې خیال وساتلے شي چې د اِعتکاف کوونکي عمر د شلو کالو نه کم نهٔ وي او د پنځوسو نه زیات نهٔ وي ځکه چې د زیات عمر مشرانو سمبالول مشکل وي او چې کله دوئي له د مَدَني حلقې او مَدَني مذاکرې پهٔ وخت خوب ورشي نو ښپې په اوغزوي او بالکل پهٔ مینځ کښې به اُودهٔ شي نو بیا به دوئي څوک منع کولے هم نشي. ځکه چې که مشرانو ته څهٔ ووئیلے شي نو هغوئي له غصه هم زر ورځي. مشران مَعذوره او بیمار وي او د هغوئي حافِظه، هاضمه او هر اندام کمزورے وي صِرف ژبه یـې طاقتوره وي او پهٔ هغې غشي وروي نو بعضې وخت مشران پخپله هم پهٔ تکلیف کښې شي او د نورو د پاره هم د تکلیف سبب جوړیږي ځکه معذوران او مشران اِعتکاف له راوستل نهٔ دي پکار. د میټرک طالبِ علمان او د جامعة المدینه او د عاشقانِ رَسُول د مدرسو طالبِ علمان خپل کارډ ښودلو سره اِعتکاف کولے شي او که پهٔ دوئي کښې څوک د شلو کالو د عمر نه کم هم وي نو د هغهٔ د پاره هم شاید چې پهٔ اِعتکاف کښې د کښیناستو رِعایت شته او دا هر څهٔ ځکه دي چې طالبِ علمان په چوټیانو کښې اخوا دیخوا د خواریدو پهٔ ځائے د **اللّٰه** پاک پهٔ کور کښې کښیني او دِین زده کړي چې پهٔ دې کښې به د هغوئي فائده وي. (ملفوظاتِ امیرِ اہلسنت، 323/2)

**سوال:** څوک چې پهٔ اِجتماعي اِعتکاف کښې د زده کولو ښودلو پهٔ مَدَني حلقو کښې شرکت نهٔ کوي که هغوئي پهٔ اِعتکاف کښې کښیناستل غواړي نو څهٔ وکړو؟ (1)

---

1... دا سوال د شعبهٔ ملفوظاتِ امیرِ اھلسنّت له خوا جوړ کړے شوے دے او جواب د امیرِ اھلِسُنَّت دامت برکاتہم العالیہ له خوا عطا کړے شوے دے.

**جواب:** زمونږه مَجَالِس او ذِمه داران اِسلامي ورونړه دې د اِعتکاف د پاره د داسې ګسانو کارډونه بالکل نه جوړوي. پۀ اِعتکاف کښې يوه شميره د داسې خلقو هم راځي چې د دعاګانو او نـمونځ وغيره د زده کولو د پاره د لګولے شوو مدرسـة الـمدينه بالغان پۀ حلقه کښې د شرکت کولو سره هيڅ تعلق نه لري دوئي پۀ اِعتکاف کښې صرف خوراک څښاک کوي او مزې کوي، داسې خلق خپل محفل جوړ کړي او پۀ ډاګه (د عالمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه کراچی د جومات پۀ دالان کښې) کښيني او ګپونه لګوي او د دوئي سره ميلاويدونکي د دوئي د پاره کله څۀ او کله څۀ راوړي او بيا يـې پۀ شريکـه خوري نو داسې خلقو ته لاسونو جوړه کولو سره معذرت کووم چې دوئي دې اِعتکاف ته نه راځي او مونږ دې د خپل شر نه بچ ساتي. مونږ ته پۀ اِعتکاف کښې هغه اِسلامي ورونړه پـکار دي چې پۀ اِعتکاف کښې عبادت او تلاوت کوي، فرض نـمونځونه د جَمعې سره کوي او د سُنّتو او دعاګانو زده کولو حلقو او مَدَني مذاکرو کښې 100 فيصده شرکت کوي. ياد ساتئ چې زمونږه پۀ اِعتکاف کښې د اِعتکاف کوونکو تعداد نۀ بلکې معيار پـکار دے. کوم اِسلامي ورونړه چې د اِعتکاف کوونکو ډک ټرينونه راولي هغوئي له پـکار دي چې هغوئي د دولسو بوګيانو [يعني د ټرين د دولسو ډبو] پۀ ځائے دوه بوګياني راولي خو چې پۀ هغې کښې د معيار والا اِسلامي ورونړه وي چې واپس ځي چې څۀ يـې زده کړي وي خو عام طور معيار نه بلکې تعداد وي او داسې خلق د اِعتکاف د پاره راځي چې پۀ څۀ زده کولو کښې يـې زړۀ نۀ لګي. هغوئي نور خلق هم تنګوي او د دې سره سره دوئي کبابونه او سمسوسې خوري او بيا بيمار شي او زمونږه د کلينک دواياني هم خوري. د دعوتِ اِسلامي زير انتظام پۀ هر ځائے کښې د اِعتکاف کوونکو د پاره د کلينک اهتمام نۀ وي البته پۀ عالمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه کښې يو

وړوکے شان کلینک جوړولے شي پهٔ کوم کښې چې محدود دوایانې وي او څهٔ ډاکټران پهٔ رضا کارانه طور تشریف راوړي. داسې نهٔ ده چې څوک بیمار شي او کلینک ته لاړ شي نو د هغهٔ پهٔ باره کښې دا ووئیلے شي چې دے پهٔ ډېر خوراک بیمار شوے دے ځکه چې پهٔ اِعتکاف کښې رَش وي او د بعضې خلقو طبیعتونه نازک وي چې هغوئي له د رش له کبله خوب نه ورځي نو د بے آرامۍ پهٔ وجه هغوئي بیماریږي. بهر حال د خپل صحت خیال ساتئ او بس هُغه خلق د اِعتکاف د پاره راولئ څوک چې د دِین جذبه لري او د اللّٰه پاک د رضا د پاره راځي. باقي نور مهٔ راولئ او نهٔ داسې خلقو ته د اِعتکاف کارډ ورکول پکار دي. د بعضو پهٔ باره کښې خو به مجلسِ اِعتکاف والؤ ته هم پته لګي چې دوئي به پهٔ اِعتکاف کښې صرف خوراک څښاک کوي او خپل شر به نورو ته رسوي نو اِعتکاف کوونکي د داسې خلقو د شر نه بچ کول ضروري دي.

## سیل سپاټې کوونکي هم اِعتکاف ته راوستل نهٔ دي پکار

دغسې سیل سپاټو والا هم اِعتکاف له راوستل نهٔ دي پکار. پهٔ پنجاب کښې سمندر نشته ځکه یوه شمیره د سمندر لیدو د پاره هم د پنجاب وغیره نه اِعتکاف له راځي او بیا دوئي د سمندر لیدو د پاره ځي او بعضې وخت یې پهٔ سوشل میډیا باندې هم شیئر کوي نو داسې کَسانو ته دعوتِ اِسلامي والا وئیل نهٔ دي پکار. دعوتِ اِسلامي د سمندر پهٔ شان ده او چې کله پهٔ سمندر کښې جال ویشتلے شي نو پهٔ هغې کښې به مهیان [کبان] هم راځي، کیکړا به هم پکښې راځي او کیدے شي چې دریابي مار هم پکښې راشي نو داسې اِسلامي وروڼه هم اِعتکاف ته راځي کوم چې دعوتِ اِسلامي والا بدناموي، لهٰذا د سیلونو شوقیان خلق هم د اِعتکاف د پاره عالمي مَدَني مرکز فیضانِ مدینه کراچۍ ته راوستل نهٔ دي پکار. دلته پهٔ کراچۍ کښې چې کوم سمندر دے د دې نوم

”بَحرِ عرب“ دے نو که څوک سمندر لیدل غواړي نو هغوئي دې د اِعتکاف نه علاوه راشي او په دې نیت دې سمندر ووینې چې دا حجازِ مُقَدَّس ښکلولو له ځي. مخکښې به د کراچۍ د سمندر نه سمندري جاز هم د حاجیانو قافله جَدّه شریف ته وړله. یاد ساتئ چې سمندر لیدل ګناه نه ده خو چې کله د اِعتکاف د پاره راځئ نو پوره وخت هم دلته تیروئ او سمندر او بازارونو ته مهٔ ځئ. دا خبره یاد ساتئ چې د اِعتکاف د پاره سوال کول جائز نه دي. لہٰذا چې کله د اِعتکاف د پاره راځئ نو چا ته داسي سوال مهٔ کوئ چې زهٔ د دعوتِ اِسلامي عالمي مَدَني مرکز فیضانِ مدینه ته د اِعتکاف د پاره ځم او زما سره د ټک راټک کرایه او د جیب خرچه نشته لہٰذا تاسو زما مدد وکړئ. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 324/2 ملتقطا)

**سوال:** آیا په مسجدِ حرام او مسجدِ نبوي شریف کښې د آبِ زم زم څښلو د پاره د اِعتکاف نیت ضروري دے؟

**جواب:** د آبِ زم زم شریف د څښلو یا خوراک کولو د پاره د اِعتکاف نیت نشي کیدے او که اوئې کړو نو دا نیت معتبر نه دے. د اِعتکاف نیت صرف د ثواب د پاره کولے شي. په مسجدِ حرام یا مسجدِ نبوي کښې هم د غیرِ مُعتکِف یعني چې چا د اِعتکاف نیت نه وي کړے د هغهٔ د پاره هم آبِ زم زم څښل جائز نه دي. که مخکښې یې د اِعتکاف نیت نه وي کړے او اوس آبِ زم زم څښل غواړي نو د هغي د پاره دا نیت نشي کیدے بلکې د ثواب په نیت سره دې د اِعتکاف نیت وکړي بیا دې ذِکر او دُرُود ولولي مثلاً دولس کَرَته دې دُرُود شریف ولولي بیا به آبِ زم زم څښل جائز شي. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 451/2)

## د راتلونکې اونۍ مجله




978-969-722-617-7
01082470

فیضانِ مدینہ محلّہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی
UAN +92 21 111 25 26 92   0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net